**مطبوعاتي اعلاميه**

**د يمن خلک به تر کومه له غوره ژونده محروم وي!؟**

د ۲۰۲۰م د جون په ٦مه د سویلي یمن د ابین او شبوه ولایتونو د عبد ربه ځواکونو او انتقالي شورا تر منځ جګړه، داسې جګړه ده لکه په ۲۰۱۴م کې چې د عبد ربه په مشروعیت سره صنعا ته د حوثیانو په ننوتلو سره راپارېدلې وه او د دوی د رضایت وړ نه وه! دغه جګړه دوې میاشتې وړاندې د ۲۰۱۹م د اګېسټ په پیل کې راپورته شوې وه. د عبد ربه او انتقالي حکومت تر منځ جګړه د دې لپاره ده چې د سویل انقلابي شورا، په سویل کې له سیاسي صحنې څخه له امریکایانو ځارنه او له شمال کې حوثیان لیرې کړي.

په یمن کې خلک له دې جګړو زیانمن شوي، د دوی کورونه، ښارونه او کلي بمبار شوي او له خاورو سره خاورې شوي دي. دغه راز بې ځایه شوي، سړکونه یې پر مخ تړل شوي او له همدې کبله باید خپل منزل ته د رسېدلو لپاره اوږده واټنونه ووهي. هېڅوک ښایي تصور ونه کړي، هغه سړک چې د صنعا او ماریب تر منځ دی او یو مسافر چې په ۲نیمو ساعتونو کې رسېده، اوس په ۱۸ساعتونو کې هم نه رسیږي. له عدن څخه صنعا ته سړک د ۷ساعتونو پر ځای ۱٦ساعتونو ته اړتیا لري. د الحوبان سړک تعز ښار ته ۲۰دقیقې وخت نیسي. د خلکو د معیشت پر وړاندې خنډونه جوړول او له کلونو راهیسې د کارمندانو د معاشونو نه ورکول خو پر ځای پرېږدئ، په بدل کې یې دوی پسې اخیستې دي، چې خپل ژوند پرته له کومې ګټې په خطر کې واچوي. د خصوصي مرکزونو لپاره یې عامه برښنا قطع کړې او همدا راز یې ښوونځي او روغتونونه تړلي دي...

دا ټول د څه لپاره؟ ایا خلک د پټرولو د محصولاتو او د خوراکي توکو له لوږې بیې خلاصوي؟ ایا دوی د خدماتو د چمتو کولو لپاره مبارزه کوي؟ نه. په الله قسم، خلک د جنجالي احزابو لپاره وروستۍ اندېښنه ده، له لیرې شمال څخه تر سوېل پورې او ختیځ څخه تر لویدیځ پورې، دوی هغه ناوړه موخې تر لاسه کوي چې د یمن خلک یې تصور هم نه شي کولای.

**د یمن خلکو:** دا خلک چې له تاسو سره دا ټول شیان کوي، لکه پر سړک د سفر خنډول، د برښنا مزي پرې کول او نورې سختې تګلارې، تر څو ستاسو معیشت ګډوډ کړي او دوی وکولای شي هغه حلارې وړاندې کړي چې ستاسو د ژوند په پرتله وژونکې دي. تاسو باید په خپلو ښارونو، کلو او سړکونو کې خوندي ژوند ولرئ او ونه ډار شئ. د هېڅا له ملاتړ پرته د برېښنا، درملو او زده کړې خدمتونه تر لاسه کړئ، ځکه چې دا ټول په اسلام کې د دولت د فعالیت زړه دی.

د یمن خلک له دغو بدمرغیو هغه مهال راوتلی شي، چې د نبوت پر منهج د دویم راشده خلافت دولت تاسیس کړي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم غوره زیری دی چې فرمايي:

**«...ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

***ژباړه:*** *...بیا به د نبوت پر منهج خلافت تاسیس شي.*

د هغه صلی الله علیه وسلم له خبرو سره سم به خلک د خپل ژوند په چارو کې په امن وي:

**«حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلَى حَضْرَمَوْتَ، لاَ يَخَافُ إِلَّا اللَّهَ، أَوِ الذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ»**

***ژباړه:*** *یو مسافر به د یمن له صنعا څخه تر حضرالموت پورې پرته له وېرې سفر کوي، خو یوازې به له الله سبحانه وتعالی څخه وېرېږي، یا به له لیوه د پسونو ساتنه کوي، خو تاسو به بېره کوئ.*

نو ایا د یمن خلک به د هغو کسانو لاسنیوی وکړي، چې د دغسې دولت د تاسیس لپاره کار کوي!؟

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَجِيبُواْ لِلّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُم لِمَا يُحْيِيكُمْ﴾**

**[انفال: ۲۴]**

***ژباړه:*** *اې ایمان راوړونکو! د الله سبحانه و تعالی او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم بلنې ته لبیک ووایاست، چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته د هغه شي په لوري بلنه درکړي چې تاسو ته ژوند ببښونکی دی.*

**د حزب التحریر- ولایه یمن مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ.ق د شوال ۲۴مه**

**۲۰۲۰م د جون ۱۵مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۲۱**